پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۷/۰۶

# منطقوی اقتصاد او چابهار بندر

(په دې هیله چې زرنج مو "زرګنج" او دلارام مو د هر افغان "دل آرام" وي )

دویمه برخه

**د اقتصادی فعالیتونو منطقه یی تحلیل**

اقتصادی منطقوی تحلیلونه ښکاره کوی چې په ځانګړو سیمو کی د اقتصادی فعالیتونو په تمرکز سره داقتصادي او تولنیزو تغییراتو محیطي تاثیرات، داقتصادي او اجتماعي شرایطوبرابری، په سیمه کې دسوداګریزو اړیکو پیاوړتیا، د عامه او خصوصي سکتورونو دپراختیا لپاره دمناسب چاپیریال رامنځته کول، داقتصادي او سیمه ایز انضمام پر مټ دزیربنایي پروګرامونوپرمختیا، ددولتي سکتور د ادارو پرمختیا او ښه حکومتولي اهداف ترلاسه کیدای شي. هغه سیمي چې لا تر اوسه وروسته پاتي او انزوا کی دی د هغوتردتولنیزي انزوا راکمول ، د دوی لپاره یو چانس بلل کیږی، افغانستان اوس دغه چانس موندلی دی. تجربو ښودلې ده چې په اقتصاد کی د بیلابیلو سیمو او هیوادو شریک کیدو او اقتصادی ګډو علایقو سیاسی نا ملایمات او خوابدی اوسیالی په ملګرتوب بدل کړی دی. نن ورځ د دغه علم له انکشاف څخه یوه نوی اصطلاح رامنځته شوی چې (freenemy ) ورته وایی. لومړی برخه ( friend) یعنی دوست یا ملګری څخه اخیستل شوی او دوهمه برخه ( enemy) یا دښمن ، یعنی دوست دښمنان ! هغه دسیاسی ډګر دښمنان چې په اقتصاد کی ډیر ښه دوستان او ملګری دی. موږ ته دا ډیره مهمه ده چې سیاسی سیالی په اقتصادی مرستو او پیوستون بدله شی او د دښمنی فضا په دوستانه فضا واوړی.

**منطقه یي والی(Regionalism)**

منطقه ټاکنه دپولو په جلا کولو سره پیل کیږي چې هم په لویه کچه وي او هم په کوچني کچه. مناطقو اوسیمو ته ځانګړی نومونه هم غوره کیداي شي او د نقشي پرمخ په ځانګړو جغرافیاوی نښو او رنګونو هم ښودل کیږي. دنړۍ

پرمخ هر هیواد دیوه سیاسی واحد په توګه خپله ځانګړی خپلواکه فضالری، چې د یوه دولت د قلمرو په توګه پیژندل کیږي.

عملاً دیو شمیر مقاصدو دترلاسه کولو، د یو شمېر ګډوګټو څخه دکار اخیستلو ، یوبل سره دلاس ورکولو او دپیاوړتیا د اوچتولو او نور و موضوعاتو لپاره څو منطقي یوبل ته لاس ورکوي او یوه واحده منطقه ( region) جوړوي. یوشمیر سیمي مطلقاً دسیاسی تصمیم له مخي جوړیږی. یو شمېرنوري داقلیمی خصوصیاتو له مخي جلاکیږي. یو شمیر نورې سیمي داقتصادي ګډو ځانګړنو له مخي اوکیداي شي ځیني سیمي دکلتوری مشترکاتو له مخي په نښه شی. په عمومي توګه دنړۍ پرمخ منطقي په څلورو ډولونو ویشل شوي دي:

i. دټولې نړۍ په کچه دځمکی پرمخ دسیمو ویش

ii. دڅو هیوادونو په کچه ویشنه

iii. دسیمي دڅو هیوادونو په کچه ګډه منطقه

iv. په ملي کچه په هیواد کي د منطقو ټاکنه

v. دیو هیواد دننه دکوچنیو منطقو ټاکنه

د چابهاربندر، لاجوردو لارې او د وریښمو لارې یو منطقوي اتصال ایجاد کړی چي افغانستان به په هغو کی محوری ځای ولري. دټولې نړۍ په کچه دآسیا جنوب دمنطقي په توګه پیژند ل شوی ده چي دنفوسو یو ډیر لوی اګلو مرشن دی. مرکزی آسیا هغه منطقه ده چي د ګازو او نورو معدني توکو لویې زیرمې لري چي د نړۍ لویې پانګوني به پکې وشي.

د اقتصادی انضمام او دنړیوالتوب (globalism) په اوسنی دور کي نړیوالو لویو اقتصادی سازمانونو ته د جوړیدو لاره هواره شوی ده او په دې برخه کی نوری هڅي هم رواني دي. له همدې فرصت څخه په استفادی سره د منطقوی مرستو لپاره هم موقع برابره شوه او یو شمیر هیوادونو وکولای شول چې منطقوی تړونونه او منطقوی اقتصاد راجوړ کړی.په تیره بیا په اروپا کي د تړونو او توافقاتو بنسټ د آلمان، فرانسی، ایټالیا، بلجیم، هالند او لوکزامبورګ د هیوادونو د توافق په پایله کي کیښودل شو. دغه پیښه د ۱۹۵۷م. کال د مارچ په لومړی نیټه وشوه، چي پایله یې بیا په ۱۹۵۸م. کې د جنوری په لومړی نیټه د اروپا د اقتصادی ټولنې رامنځته کیدل و. دغه تړون د دې لامل شو چي اروپایي هیوادونه وکولای شی چي د نړۍ په کچه د کورنیو تولیداتو تر ټولو یو لوی بازار رامنځته کړی، له دی سره یوځای دوی خپل اقتصادی او سیاسی تړون او پیوستون او یووالی نور هم کلک کړ.

په شمالی امریکا کي لومړنی منطقوی موافقه او اقتصادی تړون په ۱۹۶۵م. کال کي د متحده ایالاتو او د کاناډا ترمنځ لاسلیک شوه، چي مهمه برخه یې د موټرو او د موټرو دپرزو د آزادې سوداګرۍ په هکله وه.

په آسیا کي یوه مهمه منطقوی موافقه د آسیا د جنوب ختیزو ملتونو ترمنځ وه چي په ۱۹۶۷م. کال کي د (Association of South east Asian Nations - ASEAN ) په نوم رامنځته شوه. دغه تړون و کولای شول چي د اندنیزیا، مالیزیا، فلپین، سینګاپور او ټایلینډ د هیوادنو ترمنځ قوی خپل منځی اقتصادی، کلتوری او ټولنیز روابط کلک او دوی ټول د سولی او ثبات خواته اوچت ګامونه واخلی چي اوس هر یو پیاوړی او پر مختللی اقتصاد لري. همداسي هم په افریقا کي ورته ګامونه اوچت شول.




افغانستان په سیمه کې ډېر یو پیاوړی او مساعد ستراتیژیک ارزښت او خاص منطقوی دریځ لری ، که موږ غوره پالیسی ولرو له دغه موقعیت څخه د سرو زرو په شان ګټه اوچتولای شو. زموږ موقعیت هم زموږ لپاره او هم د ګاونډیو هیوادونو او د مرکزی آسیا، جنوبی آسیا او د دوو نویو لویو اقتصادونو (هند او چین) لپاره مهم دی. افغانستان کولای شی د تجارت او تمدن په څلور لارې واوړی (لکه زرګونه کاله مخکی یی چې همداسې یو غوره درځ درلود) او د سالم رقابت له لاری د سیمی هیوادو ته په یوه غوره اقتصادی دهلیز بدل شی. افغانستان د سیمی د هیوادونو د اقتصادی زیربنا ودې او د ترانزیت او لیږد امکان برابروی.

Ariana Afghanistan Online

**افغانستان او د منطقی اقتصاد**

افغانستان له جغرافیاوی پلوه په سیمه کی فوق العاده اهمیت لری. افغانستان د منځنی آسیا، منځنی ختیځ او د جنوبی آسیا تر منځ د یوه پله حیثیت لری او د سیمی د لویو او نویو اقتصادونو (هندوستان او چین) لپاره نړیوالو بازارونو ته د لاری په توګه ارزښت لری. په سیمه کی د تاریخ په اوږدو کی داسی مدنیت نه و او نشته چی پرته د افغانستان له ګډون څخه رامنځته شوی وی. د تجارت لرغونی او ډیره مهمه لاره (د وریښمو لار) Silk Rout له افغانستان څخه تیریدله او په معاصر وخت کی یې یو ځل بیا خپل مهم ستراتیژیک اهمیت بیا وموند. په سیمه کی د نوی وضیعت راځرګندیدو دا وښوده چی په سیمه کی منطقه یی اقتصاد ته اړتیا ده او د لاجبرو او وریښمو لاره باید بیا نوی شی. د روسیې، چین او هندوستان ورځ په ورځ پیاوړی کیدونکی اقتصاد په منطقه کې یو نوی وضعیت ایجاد کړی دی چې د افغانستان همکاری ته اړتیا لری. افغانستان همدا اوس د سیمی یو شمیر منطقه یی جوړښتونو لکه ECO, SCO او SAARC کی فعال ګډون لری. په دې وروستیو کې د چابهار د بندر د تاسیس ترځنګ ، د لاجوردو لار هم پرانیستل شوه. دلته به د دغو سازمانونو پیژندنه راسره مرسته وکړی چی د افغانستان دریځ جوت شی.
د مالونو تبادله، ترانزیت او بهرنۍ سوداګری د نن ورځې د اقتصاد یو مهم بحث دی. زیاترو هیوادونو خپل اقتصاد د ترانزیت او سوداګری له لاری ښه کړی دی. له نیکه مرغه افغانستان د خپل جغرافیاوی موقعیت له پلوه په یوه ډیرښه دریځ کی دی. ټاپي پروژه، کاسازر(د نوری فایبرپروژه) او د منطقي دریل پټلۍ پروژه د دې ډول منطوی همکارۍ ښه مثالونه دی. افغانستان کولای شی له خپل ستراتیژیک موقعیت څخه په استفادی د مرکزی آسیا او جنوبی

آسیا ترمنځ د یوه پله حیثیت ترلاسه او د تجارت په څلورلاری بدل شی. افغانستان ډیر پخوا هم کله د وریښمو د لاری پر سر پروت و او کله یی د لاجوردو د لاره مهمه برخه جوړوله. اوس چی یو ځل دا امکان برابر شوی دی چی مرکزی آسیا له جنوبی آسیا سره وصل شی، د افغانستان لپاره یو ډیر مساعد فرصت دی. د افغانستان مهم دریځ ته په ترکیه کی (د آسیا زړه) په کنفرانس کی د شانگهای د سرمشریزی په غونډه کی او په ۲۰۱۶ م. کال کی د عشق آباد د نړیوال ترانزیت په غونډه کی دی مهمی موضوع ته اشاره وشوه او د سیمی هیوادونو په تیره بیا تاجکستان، چین، ترکمنستان، هند او ازبکستان کلک لیوال دی چی د افغانستان لاری خپل منځنی سوداگری پیاوړی کړی، د چین هیواد ته د افغانستان له اقتصادی او ترانزیتی پلوه ډیر اوچت ارزښت لری، له بلی خوا دا به افغانستان لپاره یو ډیر ښه فرصت وی چی د سیمی د هیوادو له علاقمندیو څخه او د ECO, SCO, WTO او SAARC په سازمانونو کی د غړیتوب په لرلو خپل اقتصاد ته پرمختیا ورکړی.

په نړیوال تجارت او اقتصاد کی ورگډیدل او د Globalism په اوسنی دوران کی خپل اقتصادی دریځ پیاوړی کول د اوسنی عصر یوه تازه او نوی غوښتنه ده. هیڅ هیواد له نړیوال اقتصادی کاروان څخه په انزوا کی نشی پاتی کیدای. له بده مرغه افغانستان له نن څخه ۱۳۰ کاله مخکی له خپلو طبیعی سرحداتو څخه محروم او د استعماری ځواک له استعماری تصمیم سره سم یی یوه برخه جلا او له نړیوالو اوبو سره یی رابطه پری او په وچه پوری یوه ایسار هیواد




باندی بدل شو، دا هغه وخت و چی د نړی د تجارت مخه له وچی څخه د سمندر خوات شوه او انتلانتیک د سوداگری لاره شوه، افغانستان چې وچې پوری ایسار او د نړیوال تجارت څخه گوښه شوی و، اوس بیرته د پاملرنې مرکزی نقطه وگرځید.

اوس په سیمه کی داسی یوه اړتیا او تفکر رامنځته شوی چی د مرکزی آسیا هیوادونه له جنوبی آسیا سره تجارتی روابط ولری او دغه سوداگری به دسمندر له لارې ارزانه او په لوی حجم ترسره کیږی، دا ځکه چی بحری ترانزیت وسایل د وچې په پرتله د ډیرو محمولو (پیتیو) گنجایش لری.

افغانستان دچابهار بندرله پرانیستووروسته، دا دې په دې لنډ وخت کې (یوه اونۍ دمخه) د سمندری تجارت سازمان کې دغړیتوب لپاره غوښتنلیک ورکړ، چې ډیر ژربه د دغه سازمان غړیتوب ترلاسه کړي. دا به زموږ په تاریخ کې

يو لومړنی او بيساری اقدام وي. همدا راز تصميم ونيول شو چي له چابهار څخه به هند ته دوه مسيرونه (تگلوري) فعال شي:

۱.چابهار- ممبيي د هفتي جفت ورځو کي به تګ- راتګ وربانده کيږی،

۲.چابهار – کاندالا، چي د اونی په تاق ورځو کی به تګ- راتګ وربانده کيږی.

ډيرر ژر به افغان سوداګر خپلي بيړی وپيري.

په تازه پريکړه کي داسي فيصله وشوه چي د شانګهای غړی د Euro Asia طراحان او د مرکزی آسيا هيوادونه په دی فکر کی دی چی د چابهار دبندر له طريقه د تورغونډۍ له طريقه افغانستان او بيا له جنوبی آسيا سره وصل شي، د دی سمندري لاری اهميت يواځی په دی کی نه دی، چی ترانزيت به لنډ او افغانستان به هند سره وصل شی، بلکی بل ارزښت يی دا دی چی يوه واحده تعرفه به وټاکل شی او ډير بنديزونه به لری شی. افغانی محصولات (غالی، انار، انګور، ختګي، شوکاني، وريږ، مني، طبی بوټي، جنغوزي، لاجورد او ډير نور) به په ډيره ښه بيه بهر ته ورسولای شو.

له تيرو يونيم سلو کالو راهيسی افغانستان له تجارتی پلوه بد حالت او انزواکی و، خو دا دی اوس يو ځل بيا دا زمينه برابره شوی چی افغانستان له خپل جغرافياوی مهم موقعيت څخه ګټه پورته کړی او له نړيوال اقتصادی بهير او تجارتی کاروان سره ګام اوچت او خپل اقتصاد پياوړی کړی، خو مهمه دا ده چی د دی چاری او امکان لپاره په دقت سره د کار نقشه جوړه شی.

**اندیښني او ممکنه خنډونه**

له بده مرغه سيمه له امنيتی او سياسی پلوه ډيره بی ثباته ده. سياسی کشمکشونه، سيالی، په ځينو هيوادو اقتصادی بنديزونه، رقابت، بی ثباته سياسی وضعيت هغه ناوړه عوامل دي چي نه يواځي د چابهار بندر، بلکي ډيرو نوروسيمه ييزو پروژو ته هم زموږ هيلی تکنی کوي.

## اخځ REFERENCES


۱. دوديال، محمد بشير. (۱۳۸۶) د طبيعي منابعو اقتصاد. د پوهنتونونو لپاره درسي کتاب، د لوړو زده کړو وزارت چاپ: کابل- افغانستان

۲. دوديال، محمد بشير.(۱۳۹۶)، منطقوی اقتصاد ، درسی کتاب .ختيځ خپرندويه ټولنه، جلال اباد- افغانستان.

۳. صباغ کرمانی، مجيد. (۱۳۸۰) اقتصاد منطقه ای. سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انسانی دانشگاهي (سمت) : ايران –تهران

٤. حافظ نیا، محمد رضـــا. (۱۳۸۴)، افقهای جدید در جغرافیای ســیاســی، ســازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهی (سمت) : ایران- تهران.

٥. Blair. P. J. (١٩٩١). Urban and Regional Economics, Richard Irwin Inc.
٦. Raleigh Barlewe (١٩٨٠), Land Resources Economic (The Economics of Real property), Michigan state University
٧. Karl, Helmut. (٢٠٠٨) Economic Policy. Ruhr-University, Bochum – Economic Policy Department III
٨. Nijkaup, P. (١٩٨٦): Handbook of Regional and Urban Economics, (Vol.١) Elsevier publshers
٩. Losch, A. (١٩٦٤) Regional Development and Planning, MIT press.

١٠. *Peter Chalk,* ( ٢٠١٢ )Occasional paper , Implications for the United States and India's and Pakistan's Strategies in Afghanistan ) by the RAND Corporation.
١١. ADB (٢٠١٢). Modernizing Sanitary and Phytosanitary Measures to Facilitate Trade in Agricultural and Food Products: Report on the Development of an SPS Plan for the CAREC Countries
١٢. Asian Economic Integration Monitor - July ٢٠١٢ http://www.adb.org/publications/asian-economic-integration-monitor-july-٢٠١٢
١٣. Islamic Republic of Afghanistan: Transport Sector Master Plan Update http://www.adb.org/sites/default/files/project-document/٨١٥٥٣/٤٧٢١٠-٠٠١-tar.pdf
١٤. Project CASAREM (CASA ١٠٠٠) and Its Impact on Central Asian Countries http://www.forum-adb.org/docs/BW٢٠٠٩Q٣-٤.pdf
١٥. Afghanistan Information Management Services. Accessed November ٢٠١٤. http://www.aims.org.af/
١٦. ANDS (٢٠٠٨). The Afghanistan National Development Strategy http://www.embassyofafghanistan.org/page/afghanistan-national-development-strategy
١٧. EWI: East-West Institute (٢٠١٤). Afghanistan Reconnected: Regional Economic Security Beyond ٢٠١٤ http://www.ewi.info/idea/afghanistan-reconnected-regional-economic-security-beyond-٢٠١٤#sthash.٦MIend٣p.dpuf

**پـــــای**

تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

منطقوی اقتصاد او چابهار بندر (دویمه برخه او پای)
dodiaal_mb_١١٩_manteqai_eqtesad_ao_tshahbahar_٢.pdf

لمړی برخه

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/dodiaal_mb_١١٩_manteqai_eqtesad_ao_tshahbahar_١.pdf